مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویگ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۴/۲۴

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
### (اووه دیرشمه برخه)

## قدرت الله حداد

د سید احمد فرهاد زوی او د غلام محمد فرهاد ناسکه ورور، په ۱۹۳۳ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. تحصیلات ئې په ژورنالیزم کې دي. د اقتصاد او د رسمي جریدې مرستیال محرر. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د افغان ملت د جریدې محرر. د ۱۹۷۸ز کال د جولای له میاشتې د ۱۹۸۰ز کال د جنورۍ تر میاشتې پورې په پلچرخي کې زنداني. په دې پسې پېښور ته وتښتېد او دلته د افغان ملت د غورځنګ سکرتر جنرال دئ؛ دی یو مستقل مجاهد دئ. مورنۍ ژبه ئې پښتو ده.

## عبدالرب حائـل

د میرزا فضل احمد صحاف زوی په ۱۹۲۱ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۲۹ز کال کې د نجات په ښوونځي کې شامل سو. د تولګټو / فواید عامي په وزارت کې د ودانیزو چارو «تعمیراتو» په څانګې کې ژباړونکی. په ۱۹۴۲ز کال کې د افغانستان بانک مأمور. ژبې : جرمني، انګلیسي، فرانسوي، روسي او اردو. شاعر.

## نصرالله حافظ

د شاعر خواجه رزق الله له اعقابو د نورالاسلام زوی په ۱۹۳۳ز کال کې په ننګرهار کې زېږېدلی دئ. له دارالمعلمینو څخه فارغ سوی دئ. د ښوونې او روزنې د وزارت په بېلابېلو څانګو کې ئې کار کړی دئ ۱۹۵۲. د راډیو کابل د پښتو دیپارټمنټ غړی. شاعر.

## ډاکټر عبدالرؤوف حیدر

د حاجي علي حیدر زوی په ۱۹۱۱ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د حبیبیې لیسي ته تللی او په ۱۹۲۴ز کال کې جرمني د لوړو تحصیلاتو لپاره لاړ. د برلین په لویدیځ (شتاتلیچ بیغه بیدونګ انس شتالت لشته فیدر)[1] کې شامل سو او په ۱۹۲۹ز کال کې ورڅخه د بلکوریا په درجې فارغ سو. د کورنۍ جګړې په لړ کې هېواد ته راستون سو. نادر شاه په ۱۹۳۰ز کال کې بېرته جرمني ته د لوړو زده کړو لپاره ولېږهٔ. په ۱۹۳۳ز کال کې ئې دیپلومه تر لاسه

1 - Staatliche Bildungsanstalt lichterfelde- west, Berlin


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

کړه او په ۱۹۳۵ز کال کې ئې خپله دکتورا په اقتصاد کې د برلین د ,, هندل سوک شولم [2] له پوهنتون څخه ترلاسه کړه. په ۱۹۳۳ز کال کې په برلین کې د ملي بانک استازی. په ۱۹۳۸ز کال کې ورته د افغان – جرمن په سوداګرۍ کې د خدمت په پار مډال ورکړ سو. په ۱۹۳۹ز کال کې افغانستان ته له جرمني پلاوي سره بدرګه وو چې پایله ئې په هغه تړون لیک واوښتله چې جرمني به د افغان سړکونو د شبکې په پرمختیا کې تخنیکي مرسته وکړي. په ۱۹۳۹ز کال کې بېرته جرمني ته ستون سو. د ملي بانک مدیر او ورسره هم مهاله له ۱۹۳۹ تر ۱۹۴۵ز کال پورې په برلین کې د افغان سوداګرۍ اتشه. په نیویورک کې د ملي اقتصاد د وزارت استازی چې د هلمند د پرمختیایي پروژې لپاره ئې د ۲۱ میلیونو ډالرو د کریډت خبرې وکړې. په کیوبا کې د نړۍ وال اقتصادي کنفرانس لپاره استازی؛ او د ملګرو ملتونو په بېلابېلو کمیسیونونو کې د افغانستان استازی. له ۱۹۴۹ تر ۱۹۵۰ز کال پورې جرمني ته د افغان سوداګرۍ د پلاوي مشر. په ۱۹۵۳ز کال کې د سوداګریزو چارو وزیر. په ۱۹۵۵ز کال کې متقاعد سو. بروسلز، بلجیم کې د اروپايي اقتصادي ټولنې ته د افغان سوداګریز استازی. د ,, اعلیحضرت امان الله خان له لور ,, هند [3] / هندیه – ژ سره ئې وادهٔ کړی دئ او د سکندر حیدر په نوم یو زوی لري. له خپلې کورنۍ سره په روم کې ژوند کوي.

## عبدالوهاب حیدر

په ۱۹۱۹ز کال کې په یوې سوداګرې کورنۍ کې زېږېدلی دئ. ماستري ئې په اقتصاد کې د امریکا په متحده ایالاتو کې اخیستي ده. د پلان جوړولو رئیس. د افغانستان بانک د کنټرول د کمیسیون غړی. په ۱۹۵۶ز کال کې د سوداګرۍ د وزارت مرستیال وزیر. په ۱۹۶۷ز کال کې د پلان د وزارت مرستیال وزیر. له ۱۹۷۰ تر ۱۹۷۳ز کال پورې په مانیلا کې له آسیا بانک سره وو. مورنۍ ژبه ئې دري ده.

## امان الله حیدر زاد

په کابل کې له یوې لیسې څخه فارغ سو او بیا له ,, ۱۹۵۹ تر ۱۹۶۴ز کال پورې ,, د شپږو کالو لپاره ایټالیا ته د لوړو تحصیلاتو لپاره لاړ او په ښکلیو هنرونو کې ئې تحصیلات وکړل او تخصص ئې په مجسمه جوړولو کې تر لاسه کړ. په دې پسې د امریکا متحده ایالاتو ته د ښکلیو هنرونو او مجسمه جوړولو په برخه کې د لا نورو تحصیلاتو لپاره لاړ. ویل کېږي چې هنري کاري ژوند ئې په کابل کې پیل کړ او یوه مجسمه ئې په ډېرو ابتدائي وسایلو لکه ستک/ چکش او میخونو جوړه کړه. په ډېر لنډ وخت کې مشهور افغان مجسمه جوړونکی سو چې په ملي او نړۍ والو سیالیو کې ئې ګڼ شمېر جوایز وګټل؛ په دغو جوایزو کې یو ئې د ایټالیا د حکومت له پلوه د سرو زرو مډال وو. نوموړي د کابل پوهنتون په ګډون په څو تحصیلاتي بنسټونو کې تدریس کړی دئ. له ۱۹۸۲ز کال راهیسې د امریکا په متحده ایالاتو کې ژوند کوي.

## محمد یونس حیران

په ۱۹۱۶ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د انیس د ورځپاڼې محرر. د دولتي ټرانسپورټ د کمپنۍ رئیس. د مالیې په وزارت کې د ,, **ثروت** ,, د جریدې محرر. د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د نشراتو عمومي مدیر. د نژادي – دیني

[2] - Handelshochschule
[3] -Hind


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مسايلو په اړوند يو اغيزمن ليکوال. ليسه ئې بشپړه کړې او هم ئې خصوصي زده کړې تر لاسه کړي دي. د ۱۹۷۰ز لسيزې په اوږدو کې وفات سوی دئ. مورنۍ ژبه ئې دري ده.

## عبدالله محب حيرت

د عبدالعزيز ، محمد زي، زوی په ۱۹۳۵ز کال کې په هرات کې زېږېدلی دئ. ليکوال، ژورناليست او مؤرخ. د صدارت عظمی د مرکزي احصائيې د دفتر د اطلاعاتو او نشراتو عمومي مدير.

## سردار عبدالعزيز حيرت

د سردار محمد سليمان حيرت زوی په ۱۸۸۶ز کال کې د وزيرستان په سفيد کوه (سپين غرۀ) کې زېږېدلی دئ. لومړنۍ زده کړې ئې په کور کې وکړې او دوديزې زده کړې ئې د بېلابېلا استاذانو تر لاس لاندې وکړې. له ۱۹۱۴ تر ۱۹۱۶ز کال پورې د مزار شريف سر منشي. د سرحدي رياست مأمور. له ۱۹۱۷ تر ۱۹۱۸ز کال پورې د مزار شريف په حکومتی کې مأمور. له ۱۹۱۹ تر ۱۹۲۲ز کال پورې د هرات د غوراتو مأمور. له ۱۹۲۳ تر ۱۹۲۵ز کال پورې د مشهد جنرال قنسل. په ۱۹۲۵ز کال کې د باندنيو اړيکو مدير. په ۱۹۲۶ز کال کې کابل ته راغی. د بادغيس حاکم او په ۱۹۴۶ز کال کې د آقچې حاکم. په ۱۹۴۸ز کال کې ئې تقاعد واخيست او د ۱۹۵۰ز لسيزې په اوږدو کې وفات سوی دی. ليکوال او شاعر.

**جنرال سيد حسن هېواد پال** : وګورئ : هېواد پال

## عبدالوکيل هاجر

د تيمور شاه د وخت د حاکم، لعل محمد عاجز له اعقابو څخه د عبدالنبي طبيب زوی په کابل کې زېږېدلی دئ. لومړنۍ زده کړې ئې خصوصي کړي دي؛ بيا د طب ښوونځي کې شامل سوی دئ. له ۱۹۲۵ز کال وروسته ئې بېلابېلي حکومتي دندې تر سره کړي دي.

**حکيم ضيائي** : وګورئ : عبدالحيکم ضيائي

## عبدالکريم حکيمي

د لغمان له ولايته د ملکي مأمور (عبدالحکيم زوی په ۱۹۲۴ز کال کې په مزارشريف کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۴ز کال کې د حبيبيې له ليسې څخه فارغ سوی دئ؛ د کابل پوهنتون د ادبياتو په پوهنځي؛ د کولمبيا او تکزاس په پوهنتونونو کې چې خپله ماستري ئې په اقتصاد او مالي چارو کې ورڅخه ترلاسه کړه تحصيل کړی دئ. د ماليې د وزير عبدالملک عبدالرحيمزي (له ۱۹۵۳ تر ۱۹۵۷ز کال پورې)، تر لاس لاندې ئې کار وکړ. د هرات او هلمند والي. له ۱۹۵۸ تر ۱۹۶۳ز کال پورې د ماليې د وزارت مرستيال وزير. په ۱۹۶۰ز کال کې د افغان هوايي چلند رئيس. د ماليې په وزارت کې د اقتصادي چارو د رياست رئيس. د ۱۹۶۷ز کال د جنورۍ په مياشت کې د ماليې وزير. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۶۷ز کال پورې د مخابراتو وزير. په ۱۹۷۲ز کال کې په صدارت عظمی کې د احصائيې د انستيتيوت رئيس. د ۱۹۷۸ز کال د اپريل – جولای په مياشتو کې د پلچرخي په زندان زنداني. له يوې امريکايی مېرمنې سره ئې واده کړی دئ. مورنۍ ژبه ئې دري ده.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ

## ډاکتر عبدالرحمن حکیمي

د حاجي عبدالحمید زوی په ۱۹۱۰ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۳۷ز کال ئـې خپل د طب د ډاکترۍ M.D. سند د کابل له پوهنتون څخه تر لاسه کړ. خپل تخصص ئـې په جلدي ناروغیو (درماتالوژي)[4] کې د امریکا له متحده ایالاتو څخه تر لاسه کړ. په مزارشریف، هرات او کندهار کې ئـې د طبي افسر په توګه دنده تر سره کړې ده. په ۱۹۵۹ز کال کې د عامې روغتیا دایرکټر جنرال. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۶۹ز کال پورې د عامې روغتیا د وزارت مرستیال وزیر. له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۱ز کال پورې د عامې روغتیا دوزارت سلا کار. د جهاني روغتیا د نړۍ وال سازمان [5] WHO په غونډو کې ئـې د افغانستان استازیتوب کړی دئ. اوس په کابل کې ژوند کوي.

نور بیا

## حلیمه بوبو جان

د (میر واعظ د زوی ملا سید عتیق الله لور او د...

قدرمنو لوستونکو! د بناعلي رحمت آریا د آرشیف: لینک

[4] -Dermatology

[5] - International World Health Organization


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ